دبخت شهادت علی سا عتیسم
تابرموم کوی بشیه پیاسبر اقوام شال شکو باشد

شهادت

(٤) صفحه

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (١٣٣٦) سال نزدهم شماره (١٣٢) دو شنبه (١٣) حوت ١٣٧٥هـ . ش (٢٤) شوال المکرم ١٤١٧هـ .ق (٣)مارچ ١٩٩٧م

الهی لارښوونی

ا ل م

اومېنډي دي ترېوره دووکلونو خپلو بچیانو ته تي ورکړي (داحکم) هغه چالره دي چي (غواړي تي ورکول سرته ورسي) اوپرپلار(٢) هغه چي ولد ده لره دي) ددوي (ددي ښځو) خوراك او پوشاك ده په ښه طريقه . هيڅوك نه مكلف كيږي مگر دخپل توان (په حد کي) نه دي مور په خپل ځوي وځورولي شي اونه هغه چي مولودده لره دي (پلار) په خپل ځوي سره . اوپه وارث دېته ورته (څه لازم) دي. نو كه (دواړو) په خپل منځي خوښي اومشوري سره بيلول وغوښتل نو ورباندي گناه نشته اوكه مورداوغوښتل چي اولادته موتي ووكوونكي ترلاسه كړي (كومه دايي ورته ونيسي چي تي وركړي) نو په تاسو كومه گناه نشته (خو) كلنه چي هغه څه (دايي ته) په ښه شان وسپاري چي وركړي مودي (دوركړي ژمنه موكړي ده) اوله الله وويريږي اوپهدي پوه شي چي الله په هغه څه بصير(ليدونكي) دي چي كوي يې اوله تاسونه چي څوك مري اوښځي (شاته) پريږدي بايد (د اښځي)په خپل ځان څلورمياشتي اولس ورځي صبر وكړي .

امریکا دافغانستان په ګډون یوشمیر هیوادونه دمخدره موادو په تولید او تجارت تورن کړی

امریکا به لدی هیوادو سره هیڅ ډول تجارتی اواقتصادی اړیکی نه ساتی

افغانستان اوبرما هریو دټولی نړۍ ٧٥ فیصده ، برخه کوکنار تولیدوی

واشنگټن - دحوت ١٢ مه :
دامريكا دمتحده ايالاتو واكمنو دافغانستان په ګډون دنړي يوشمير هيوادونه ، دكوكناروكښت اوتجارت له امله ، دناخوښه هيوادونو په لست كي شامل كړي دي .
دفرانسي خبري آژانس دامريكا دبهرنيو چارو دوزيري ميډلين البرايټ له قوله رپوټ وركړي چي ويلي يې دي : دامريكا جمهوررئيس بل كلنټن دنړي دهغه (٣٢) هيوادونو اره خپله رسمي پريكړه
پاتی «٤» مخ «٦» ستون

ورور«حکمتیار»له شهادت سره په ځانګړی مرکه کی :

اعتراف کوم چی دمسعودپه باب مو اشتباه وکړه

حزب،دیوه نوی ابتکار اومحوری نقش لپاره ځان برابروی اودفرصت انتظار کوی

دشمال جبهی تراوسه زمونږ طرحه نه ده منلی هغوی غواړی چی ربانی رئیس ،دوستم ددفاع وزیر اومسعود یی تاجه پاچا وی

طالبانو له ربانی نه مالی مرستی،کمونستانو ته په خپلو لیکوکی ځای ورکول ، اوله جنبش نه دالوتکو غوښتل حلال بلل ، خوله حزب سره یی دجګړی لارونیوه

دمشرقی شوری په نامه عملاً کومه جبهه وجود نلری که صالح کسان چی بده سابقه ونلری راوړاندی شی مثبت نقش ترسره کولای شی

امید دی چی پاکستان دامریکا له تاثیر نه آزاد سیاست غوره کړی ، له ښاغلی نوازشریف نه چی پیاوړی موقعیت لری،همدا هیله لرو

ماته دیوه کمپ تصمیم ،تیاری،سرمایه ګزاری اوپلان ګزاری داسی معلومیری چی باید شمال سقوط وکړی

که جګړه وی ، اودطالبانو فتوحات وی نو طالبان به وی خودجګړی دپای اورکود په دواړو صورتونو کی یی مستقبل تیاره بریښی

مونږ له خپل ولس سره نه ماتیدونکی تعهد لرو ، په هیڅ صورت کی یی یواځی نه پریږدو د ژغورنی لپاره یی هرڅه ته تیار یو

٢٠ مخ

درګیری میان طالبان وشورای دفاع فروکش کرد

بامیان - ١٠ حوت :
از دو روز به اینطرف جنگ میان نیروهاي طالبان ونیروهاي شوراي دفاع درجبهه هاي شيخ علي ولولنج فروكش كرده است .
براساس گزارش هاي رسيده ازولايت باميان تحركات نظامي ازسوي دوجانب درگير درمناطق مذكور ديده ميشود ولي
بقيه صفحه (٤) ستون (٧)

کنفرانس الماتی پایان یافت

الماتی - ١٢حوت :
روسای جمهوری پنج کشورآسیای میانه درکنفرانس سران درالماتی پایتخت قزاقستان باصدور بیانیه ئی بر متمرکز کردن تلاشهای شان درکمك به ده ها
بقیه صفحه (٤) ستون (٧)

دشمنان اسلام از تعصبات فرقه ای ومذهبی به نفع خود بهره برداری مینمایند

علم شاه مهمند

پشاور -١٢حوت :
روسیه وامریکا مجموعاً مبلغ بیش از (٢٨) ملیون دالررابه شبکه های جاسوسی خود درجهان تخصیص داده تا ازینطریق برنامه های کشور های ا سلامی را سبوتاژ نماید.
جنرال علم شاه «مهمند» یکی ازشخصیت های مشهورقوم مهمند هدف از فعالیت های ضد اسلامی دستگاهای جاسوسی امریکا وروسیه را ایجاد تشنج وتفرقه میان مسلمین جهان توصیف کرده
بقیه صفحه (٤) ستون (٧)

یلتسین وضع اردوی روسیه رانګران کننده خواند

مسکو - ١٢ حوت :
حکومت روسیه وضعیت نظامی واقتصادي در داخل صفوف اردوي اين كشوررانگران كننده خوانده خواستارايجاد اصلاحات اساسي دراين زمينه شده است
بوريس يلتسين رئيس جمهور روسيه طي خطاب راديويي بمردم نسبت به اوضاع متشنج سياسي ونظامي اين كشور هشدار داد .
رئيس جمهور روسيه متذكرشد كه آغازاصلاحات در داخل اردو درشرايط
بقیه درستون «٥» صفحه «٤»

به نوشته «نیویارك تایمز »:

جنګ فراګیروتمام عیار عنقریب آغازمیشود

عدم همکاری میان اعضای ائتلاف موجب غلبه طالبان شد

طالبان در جستجوی کسب همکاری قوماندان ائتلاف مخالفان اند

واشنگتن - ١٢ حوت :
مخالفت هاي ذات البيني وعدم همكاري در داخل صفوف ائتلاف ضدطالبان برهبري جنرال دوستم ،زمينه رابراي پيشروي طالبان به صوب شمال افغانستان فراهم گردانيد .
به نوشته روزنامه نيويورك تايمز بعداز آنكه طالبان به موفقيتهاي چشم گيري درشمال كابل نايل شده به دامنه هاي كوه هندوكش رسيدند ازقراين طوري برمي آيدكه طرفين درگير افغان، طي چند هفته آينده ، يك جنگ وسيع وكاملاً عياررا آغاز خواهند كرد . درشماره اخير روزنامه
بقيه درستون «٤» صفحه «٤»

درمذاکرات مسکو پیشرفتي بدست نیامده است

مسکو - ١٢ حوت :
هیئت هاي مذاكره كننده تاجكستان درششمين دورگفتگو هاي صلح اين كشوردرمسكو درباره نحوه حل مسائل نظامي اين كشور به توافق نرسيده اند .
براساس گزارش خبرگزاري ها ازمسكوطلبك نظروف وزير امور خارجه تاجكستان رئيس هيئت مذاكره كننده دولت دراجلاس مسكو گفت : گفتگوهاي
بقيه درستون «٦» صفحه «٤»

اکثرافغان ها به جرم های ناچیز درپاکستان زندانی شده اند

پشاور-١٢حوت :
يك كارمند كنسولگرى اداره طالبان در پشاور گفت كه اقداماتى بخاطر آزادى افغان هاى محبوس درزندان هاى پاكستان روى دست گرفته شده است .
محمد ولي گفت بيش از ٤٧٠ افغان در پاكستان زندانى اند كه دوسيه هاى شان معمولى وعادى است .
وى گفت كه اكثرافغانها ازسال هاى متمادى بدينسو، بموجب الزامات عادى ونداشتن اسناد قانونى در پاكستان زندانى شده اند .كه واقعاً جرم آنان ناچيز مى باشد .
بقيه درستون «٥» صفحه «٤»

فعالیت های صلیب سرخ براصول بیطرفی استوار است

کابل ١٢-حوت :
فعالیت های بشردوستانه اداره جهانی صلیب سرخ در سراسر جهان بر اصول بی طرفی ا ستوار بوده وازمداخله درامور داخلی کشور ها خود داری کرده است .
مایکل روی کیندل مسؤل کمیته بین المللی صلیب سرخ درامور افغانستان در گفتگو با بی بی سی بیان داشت که ادارات مختلفه این سازمان درتمام مناطق جنگزده جهان بشمول افغانستان فعالیت داشته وکمك های عاجل را برای آسیب دیدگان ناشی ازجنگ ارسال می دارد.
وی راجع به فعالیت این کمیته درکابل گفت که درحال حاضر بیش از پنج شفاخانه در شهرکابل تحت پوشش مساعدت صلیب سرخ بين المللى قرار دارد كه ازجمله ادويه وسامان آلات طبى براى اين مراكز صحى كمك مى شود .
مسؤل صليب سرخ جهانى افزود كه
بقيه صفحه (٤) ستون (٧)

دامریکا داستخباراتو اداری په تیرو دوو کلونو کی د (١٠٠٠) تنو خارجی جاسوسانو لاسونه قطع کړی

واشنگټن - دکب ١٢مه :
په بوخپاره شوی رپوټ کی ویل شوی چي د امریکا د استخباراتو اداری (سی، آی، ای) په تیرو دو وکلونو کی د (١٠٠٠)تنوخارجی جاسوسانو معاش قطع کړی دی .
واشنگټن پسټ ليكلي دي چي ددغو جاسوسانو (٩٠) په (١٠٠) كي لدى امله برطرفه كړاى شول چي راپوروته ئي مؤثق نه و خو (١٠٠) تنه نور د بشرى حقوقو د تيريو اوجنايتكاريو له كبله برطرفه شوى دى. و اشنګټن پسټ ليكلي دي چي دغه
پاتی «٤» مخ «٣» ستون

په امریکا کی د توفان له امله (٢٣) کسان وژل شوی دی

واشنگټن - دکب ١٢مه :
د هغه توفان له امله چی د امریکا په جنوبی ایالتونو کی راغلی ٢٣ کسان وژل شوی دی.
د امریکا غږ راډیو رپوټ په اساس دغه توفان د امریکا د جمهور رئیس کلنټن د هستوګنی ایالت «ارکنسان» ته له نورو زیات تاوان رسولی چي (٨) کسان هم په کښی وژل شوی دی .

استاد خلیلی رهبرحزب وحدت اسلامی :

دفاع ازمناطق تحت کنترول ما وظیفه اسلامی ماست

اهالی هزاره جات برای دفاع ازمناطق شان تصمیم قاطع دارند

بامیان ١٢حوت :
حزب وحدت اسلامی هیچگاه، طرفدارجنگ در افغانستان نبوده اما این طالبان اند که درگیری را درمناطق مختلف منجمله درهزاره جات دامن می زنند.
استاد «خلیلی» رهبرحزب وحدت درگفتگوي تفصيلى با راديو تهران موضع اين گروه را در قبال حوادث ورويداد هاى اخير اوضاع افغانستان توضيح نموده گفت : گروه طالبان از زمان ظهورش درافغانستان، سياست جنگ افزوزانه را دنبال كرده تا بالاخره حالاجنگ را به دروازه هاى هزاره جات كشاند، سياست حزب وحدت اسلامى براصول مسالمت آميز استوار بوده و ما ضمن محكوم كردن اين جنگ ها ، عمليات مسلحانه را گره گشاى حل بحران افغانستان نمى دانيم .
رهبرحزب وحدت افزود كه ما بارها مواضع خود را درقبال حل قضيه، افغانستان اعلان كرده ايم و باتاكيد بر مواقف صلحجويانه ، دفاع از مناطق تحت كنترول خود را وظيفه اسلامى خويش مى دانيم اگرطالبان باتوسل بزور بخواهند برحريم حزب وحدت اسلامى حمله نمايند ، پاسخ قاطع ودندان شكن به آنها داده
بقيه درستون «٥» صفحه «٤»

ملا متقی نقش علمای پاکستانی درافغانستان راستود

اسلام آباد - ١٢حوت :
اميدواريم ملت مسلمان پاكستان ما را درجهت انفاذ نظام اسلامى و بازسازى مجدد افغانستان يارى رسانند .
ملاامیرخان متقی وزیراطلاعات کلتور طالبان طی دیداربا هیئت علمای پاکستان بریاست مولاناژاهدالراشدی درکابل از همکاری علمای پاکستان با طالبان قدردانی نموده از نقش اسلامی آنان درافغانستان ستایش به عمل آورد .
بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

په زائر کی یاغیانو له دولتی ځواکونو نه دوه نور ښارګوټی نیولی دی

زائير - دکب ١٢مه :
په زائرکی یاغیانو په داسی حال کی چي د هیواد دریم لوی ښار(کاپیسنګانګی) خوانه پرمختګ کوی د دوو نوروښارګوټو کنترول یی په لاس کی اخیستی دی .
د فرانسی د خبری آژانس د رپوټ په اساس د زائيرد یاغیانو بوعالی رتبه غړی ویلی دی چی د دوی قواوو د «مبلیتو» او «پنګی پنګی» د مهاجرو کمپونه نیولی دی .
د رپوټ په اساس نړیوالو خیریه موسسو خپل کارکونکی تیره ورځ د «پنګی پنګی» له کمپ نه ایستلی وو او دروند ١ او بروندی د یو لك او یازره مهاجرینو سرنوشت تراوسه نه دی معلوم خو د بشری مرستو کارکونکی وایی چي هغوی د جمعی په ورځ له دغو کمپونو نه وتلو شروع کړی وه .

دلندن په هوایی ډګرکی روسیی ته تلونکی ٥/٢ ملیونه ډالره روپی غلا شوی

لندن - دکب ١٢ مه :
دلندن دهسروله هوائي ډګرنه چادوه نيم مليونه ډالرپټ كړي دي .
دنړي والوخبري آژانسونو په حواله ويل شوي چي دلندن پوليس وايي دهسرو دهوائي ډګرنه نامعلوموكسانودغه پيسي پټي كړي .
په رپوټ كي ويل شوي چي دغه
پاتی (٤) مخ (٣) ستون

جنوب لبنان راکت باران شد

بیروت - ١٢حوت :
در ادامه تجاوزات رژیم صیهونستی برجنوب لبنان جنگنده های این رژیم باردیگرمناطق آزاد شده جنوب لبنان را موردحملات خود قراردادند .
قرارگزارش خبرگذاری آلمان جنگنده های رژیم صیهونستی صبح روزگذشته در دوحمله پیاپی چندین راکت براقلیم التفاح فیرکردند

دنویو کلنیو انتخاباتو دنتایجو په اساس محمد خالد «همت یار» یوځل بیا د محصلینو داسلامی تنظیم دعمومی ناظم په حیث وټاکل شو

پیښور - دکب ١٢ مه :
دافغانستان دمحصلینو داسلامی تنظیم دعمومي ناظميت كلني انتخابات دجمعي په ورځ دبوي غونډي په ترځ كي ترسره شول .
دافغانستان دمحصلینو د اسلامي تنظيم پوه مربوط مقام پرون شهادت ته وويل په هغه غونډه كي چي دانتخاباتوپه خاطر جوړه شوي وه ، دپيښور او افغانستان دټولو مكاتبو، پوهنتونونو، معهدونو، او حلقو ناظمينو اواستازو
پاتی «٤» مخ «٤» ستون

دوجوان فلسطینی مجروح شد

بیت المقدس - ١٢ حوت :
ده ها هزار فلسطيني صبح روزيكشنبه باحمله به يك پوسته تالاشي اردوي زبيل درنزديكي شهرك اورانيس درشمال ساحل غربي با سربازان رژيم
بقيه درستون «٥» صفحه «٤»

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : (۲۶۲٤۸۷)
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

افغانستان او دملګروملتو اداري ...!

دملګروملتونو ځیني اداري اوڅانګي چي وظیفه ئي له هغوخلکوسره مرسته ده چـــي دفقر، جګړو او نورو مصیبتونو پـــه وجـــه دڅوند له ډیرواولیه حقوقو اوضرورتونځه محروم وي، په طالبانو باندي اعتراض کوي، دهغوي په ځینو سیاستونو، اودریځونو انتقاد کوي اوبعضي حرکتونه اواقداماتونه ئي غندي . نوموړي اداري پـــه همدي بنیاد یادخپلو مرستودمحدودولو اوقطع کولو ګوابنونه کوي اویائي عملاً پـــه دي باره کي په پریکړو لاس پوري کړي دي .

موږدلته په دي باندي خبري نه کوو چي دطالبانو کوم ، کوم سیاستونه نادرست دي، کوم ئي صحیح او دملګروملتونو څانګي پـــه خپلو اعتراضونوکي څومره حق په جانب دي اوڅومره په غلطه ولاړدي .

خوددي موضوع توضیح لازمـــه ګڼو چي دیوي سیاسي ډلي اویا اداري داجراٰتو جزایوه مظلوم ولس ته چي هرڅه ئي برباد شوي او یوي دردوونکي بي وسی محاصره کړي، ډیـــر ناوړه قـــدم اوډیره غیرمنطقي فیصله ده .

نن په افغانستان کي دماین بلا هــــره لحظه دهریبي وزله افغان ژوند تهدیـــدوي، دهغه دژوند وسایل اوساحه تنګوي . دیوي نړیوالي منبع دخیړني له مخي دروسانوله تهاجم نه ترپروسږکال پوري څلورملیونه افغاني ماشومانو دسوٴتغذي اوبابیلابیلوناروغیو په وجه خپل ژوند له لاســــه ورکـــړي . هرکال دوه سوه نهه څلویښت زره ماشومان چي عـــمر ئي ترپنځوکلونوکم دي،داسهال او سرخکان پـــه شان ناروغیوله امله ساه ورکوي اوله هرو څلورو افغاني ماشومانوڅخه ئي یومخکي له دي چي پنځــه کلـــن شي مرکیږي . همدارنګه میندي هم دجګړي لـــه ناوړه تاثیرونو څخه مصوٴني پاتي نـــه دي . له ه لکومیندوڅ ... زراواوه سوه میـــندي داولاد دزوکولو په وخت کي خپل ژوند له لاسه ورکوي . زموږ دهیواد په کلیوکي یواځي پنځه فیصده خلکوته دچښلو وړاوبه مساعدي دي اونورتول، خرابي اوبه څښي .

په همدي وجه ده چي موږوایو دملګروملتونو اداري هیڅ اخلاقي جــوازاو منطقي دلیـــل نلري چي دیوي سیاسي ډلـــي یـــا اداري په دریځونو اوکړووړوباندي داعتراض په توګه زموږدولس پـــه ځیربومحروم اوپه مصیبتونوککړ ولس ته جزا ورکړي .

اعتراف کوم چي دمسعود په باب مواشتباه وکړه

تهران - دکب ۱۲ مه :
پرون دحـــزب اسلامي افغانستان امیر وروړ «حکمتیار» په تلفون له شهادت ورځپاڼي سره یوه په زړه پوري مرکه وکړه چي دګرانو لوستونکو مخي ته ئي ږدو .
(اداره)

پوښتنه : کــــه دهیواد دروانې وضعي پـــه باب دحزب موضع په مشخصه توګه توضیح کړي ؟

خواب : الحمدلله وکفي وسلام علي عباده الذین اصطفی . وبعد

حزب اسلامي بـــه خپـــل ایماني مسئولیت پدي تاریخـــي مرحـــله کي حتماً اداکوي . د اســـلامي انقلاب موسس اولاربودحزب نشي کولي پس له دومره قربانیو انقلاب بـــه نیمایي اوولس دظالمانو په منګلوکي پراځي پریږدي ، حزب دیوه نوي ابتکار اویوه محوري نقش ترسره کولو لپاره ځان برابروي اومناسب فرصت ته منتظر دي . دشمال اوجنوب له جبهوسره ، تراوسه هیڅ ډول تعهد نلرو .دواړي جبهي واضح طرحه نه لري اودمجهول مستقبل په لوري هیواد بیایي . دوي دجګړي په دوام باورلري، او جګـــړه دپردیو په مرسته اودخپل هیواد دمزید تباهي اودخپل ولس دمزید مرګ ژوبلي په بیه ، مخکي تلي شي . دټولو هیوادو داخلي جګړو داثابته کړي چي جګړه ماران تل له خپل هیوادوال وروړ سره، دکبر، لويي، ځان غوښتني، دېل دنفي کولو اوبه هرڅه قبضه اوله خانه دملت دمالك الرقاب جـــوړولو په روحیې معامله کوي . خودپردیو پښوته ولیږي . اوله هغوي نـــه دځو پیسو شکولو اود څومیله وسلولاس تــــه راوړلو لپاره هرذلت اودنائت ته غاړه ږدي .

پوښتنه : حـــزب ولي ددفاع په شورا کي برخه وانه خیستله ؟

خواب : دشمال له جبهي سره زموږ مذاکرات روان دي هغوي ته چي موږ دهیواد دژغورني اودجګړي دپاي ته رسولو لپاره کومه طرحه وړاندي کړي وه تراوسه ئي نده منلي - ددوي طرحه داوه چي رباني بیارئیس جمهور وي ، جنرال دوستم وزیـــر دفاع ،مسعود بي تخت وتاجه واکدار وي . او داکارنه ممکن دي اونه بحران وربانــدي حل کیدي شي .

په جنوب کـــي چي له چانه دوي دداسي یـــوه حکومت لپاره ، دجنګ اوقرباني ورکولو انتظار لري . په کومه انګیزه اودکوم مقدس هدف لپاره به قرباني ورکوي - که دتیرحکومت لپاره چاقرباني ورکولي نوبه کابل کي به بي له هغه نه دفاع کړي وه .

پوښتنه : آیا له طالبانو سره دحزب دتفاهم موضوع ترغور لاندي ده ؟

اوآیا دکابل تـــر سقوط وروسته دحزب په سطحه رسمـــي خبري اتري ورسره شوي دي ؟

خواب : طالبانوله ټولو سره دجګړي - اوبه زور پـــه ټـــول افغانستان دحکومت کولو لارغوره کړي . دوي له رباني نه مالي اونظامي مرستي ترلاسه کول جائز وګڼل . له جنبش نه دپیسو اودطیارو دپرزه جاتولاس ته راوړل ئي حلال وشمیرل . کمونستان په خپلو لیکوکي منل ئي رواکاروګڼلو - خوله حزب سره ئي دجګړي لارخپله کړه . اوګمان کوي چي له حزب سره دتفاهم په صورت کي پدوي مرستي متوقف کیږي .

طالبان پـــه جدي اوصادقانه مذاکراتوباورنلري . پـــه همدي خاطر لدوي سره رسمي مذاکرات نلرو .

پوښتنه: دمشرقي شورادبیا فعالیدو په باره کي څـــه واياست ؟

خواب : دمشرقي شوري په نامه عملاً کومه جبهه نشته . دننګرهارځني سابقه واکداران په همدي نامه ځان یادوي . دننګرهار قوماندانان په هغه صورت کي مثبت نقش ترسره کولي شي چي :

۱ - په خپلي سابقـــه رویې کي تجدید نظروکړي .

۲ - صالح کسان چي بده سابقه ونلري او دننګرهارمسلمان ولس تــــه بي بدامتحان نـــه وي ورکـــړي راوړاندي کړي .

۳ - دننګرهار ټول صالح مجاهدین چي دمخکني اداري نه بده خاطره لري، داوه کړي اوپه یوه قوي داډمن محوریي راغونډ کړي .

همداکاربه لغمان اوکنړ کـــي هم وشي اوبیا همدا دري ولایتونه دمشرقي شوري په نامه متحد شي . پدي صورت کي واقعاً موثر کارکولي شي . ګمان نکوم چي دسابقه نظام لــــپاره دي دننګرهار مجاهدین قرباني ورکړي .

پوښتنه : دپاکستان دسیاسي بدلون تأثیرزموږ پربحران څه ګڼي ؟

اوآیا پاکستان به دافغانستان په باب نوي سیاست غوره کړي ؟

خواب : امـــید دي پاکستان دافغانستان په اړوند دامریکاله تاثیرنه آزاد سیاست غــــوره کړي . له جناب نوازشریف نه پداسي حال کي چي په قوي موقعیت کي دي اوپه پارلمان کي اکثریت لري همداتوقع لرو - که داسي وشي نوپاکستان ددي بحران په حل کولو کي موثره ونډه اخستي شي .

دافغانستان دکشالي دحل کیدوګټه ترټولو خارجي هیوادو دمخه پاکستان ته رسیږي . ځیني هیوادونه داسي دي چي زموږ دهیواد دبحران په ادامي کي خپلي ګټي لټوي .

پوښتنه : طالبان اوځیني نورمراجع دشمال دسقوط پـــه باره کي ځانونه مطمئن ګڼي، تاسي څه فکرکوي ؟

خواب : ماته دیوه کمپ تصمیم ، تیاري، سرمایه ګذاري ، اوپلانګذاري همداسي معلومیږي چي شمال باید سقوط وکړي ، دوي ترډي نه په کم شي نه راضي کیږي . کـــه جنبش له طالبانوسره جوړشوي وي نوبیا به طالبان له هندوکش ، شیبراوکوتل سبزك نه (په بادغیس کي) نه تیریدلي خواوس راته جګړه حتمي برېښي ، دامطلب باید واضح کړم چي که شمال سقوط هم وکړي، جګړه پاي ته نه رسیږي .

پوښتنه : دطالبانو اداره څومـــره بادوامه ویني ؟

خواب : کـــه جګړه ادامه وکړي، اوطالبان مزید فتوحات ولري، طالبان به وي، خودجګړي دپاي ته رسیدو اوپایه جګړي کي درکـــود په صورت کي ، ماته دطالبانو مستقبل تیاره برېښي مخصوصاً دهغه سیاست په رڼاکي چي طالبانو غوره کړي .

پوښتنه : دهـــیواد دتجـــزیې خطرڅومره، جدي ګڼي ؟

خواب : ځني قوتونه په جدي توګه دهیواد دتجـــزیې لــــپاره هڅه کوي . خودتجزیې عملي امکانات ډیرضعیف دي . افغان ولس به هیڅکله دیتـــه اجازه ورنکړي .

پوښتنه : اوس دحزب اوجمعیت تعلقات څه ډول دي ؟

خواب : له جمعیت سره متحیث جمعیت څــــه خاص مشکل نلرو . دجمعیت اکثرمسئولین اوټول دټیټي سطحي غړي دحزب اوجمعیت یووالي غواړي . خـــو د شوري نظارځني التقاطي عناصـــر ددي مناسباتو دخرابولو کوشش کوي .

که په شمال کي بل حکومت اعلان شي، ستاسي دریځ به څه وي ؟

خواب : کومه اداره چي په خنجان کي وړباندي توافق شوي وو . دخــاصو وجوهاتوپه سبب ئي عملي بنه غوره نکړه . ددي حکومت جوړونکو هغه دشمال دجبهي په ضرروګڼله . موږ پدي حکومت کي برخه نلرو - لدوي سره زموږ مذاکرات دوام لري .

پوښتنه : انجنیر مسعود پـــه یوه مرکه کي دکابل دسقوط عامل تاسي ګڼلي وي ، تاسي څه واياست؟

خواب : ټولوته معلومه ده چي دچارویه ، منحط افکار، غلط سیاست اودپردیوپه لاس کـــي لوبیدل، دروانو جګړو وسیله اودکابل دسقوط اصلي عامل وو . شاید مسعود دهمدي لپاره په شمال کي زمـــوئـــږ دترور لپاره دسیسي جـــوړولي او تروریستان یې رالیږل . او نوروته یې پیشنهاد کولو چي په شمال کي باید دحزب اسلامي قوتونه تصفیه کړو خونورو داکارناممکن اومضرګڼلو . او دده له طرحي سره یې توافق نه کولو .

پوښتنه : کابل ته مودتنوتلو داقدام په باره کي څه فکرکوي چي څومره دقیق اوګټوروو ؟

خواب : زه اعـــتراف کوم چي دمسعود پـــه هکله موږ اشتباه وکړه ددوي په وعدو باور کول یوه سیاسي غلطي وه . که څه هم دحزب مرکزي شوري په اتفاق سره پریکړه کړي وه اوموږ په ټول اخلاص اوصداقت کابل ته پدي طمع داخل شوچي هلته به اصلاحات راشي. جګړي بـــه پاي ته ورسیږي . اسلامي حکومت به قایم شي ... خوتاسو ولیدو چـــي زموږ دهر اسلامي اقدام په مقابل کي دمسعود اودده دالتقاطي اندیوالانو دریځ څه وو ؟

پوښتنه : ستاسي په نظر دبحران دحل لار څـــه ده . یعني یوه داسي لارچي هم معقوله وي اوهم بي دعملي کیدو احتمال وي ؟

خواب : دټولو صالح مجاهدینو ترمنځ په یوي معقولي سیاسي نظامي جبهي توافق دافغانستان دبحران دحل لپاره یوه جامع ګډه طرحه وړاندي کول چي په لاندوټکومبني وي .

۱ - مذاکرات

۲ - غیرحزبي موقت حکومت

۳ - ددي حکومت له لاري دمکلفیت ددوري په اساس دملي اردو جوړول .

٤ - داسلامي اصولو پـــه رڼاکي انتخابات

٥ - دهرراز بهرني مداخلي پـــــه کلکه مقابله .

هرهغه خــــواك چـــي په جګړه اصرارکوي دپردیو پـــه زور قدرت ته رسیدل یاپه قدرت کي پاتي کیدل وغواړي . دهغو ســیاسي اونظامي مقابله .

ب : دحزب دتنظیم دتجدید په باره کي څـــه اقدامات ترغور لاندي دي

خواب : ددي ســــوال ځواب به دافغانستان نږدي راتلونکي حــــوادث تاسواوټول افغان ولس ته څرګند کړي .

پوښتنه : په هیواد کي به دحزب راتلونکي نقش څه وي ؟

خواب : موږله خپل مؤمن ولس سره کلك اوټه شلیدونکي تعهدلرو . په هیڅ صورت کي یې یواځي نه پریږدو. ددوي دژغورني لــپاره هرڅه ته تیاریو . په هري ممکني وسیلي فکرکیدي شي.

هشدار های ملل متحد به طالبان، هدف تبلیغاتی دارد وازطی دل نیست

واصل حمید

پس از اینکه بعضي کارکنان مؤسسه « مبارزه باگرسنگي » ازطرف طالبان توقیف شدند، انتقاد سازمان ملل متحد علیه طالبان رنگ جدي تري بخود گرفت . ملل متحد هشدار داد که اگرطالبان مامورین توقیف شده را آزاد نسازند و یاباردیگر به توقیف غیرقانوني البته به نظر سازمان ملل، کارمندان سازمان ملل ادامه بدهند، ملل متحد کمك هاي خودرا درافغانستان متوقف خواهد ساخت .

لحن شوراي امنیت سازمان به ارتباط توقیف کارمندان فرانسوي این مؤسسه درکابل بمقابله گذشته تندتر مطرح شده واین موضوع بسیاري را به این تصور واداشته که اگرگویا سلسله مشوره ادامه پیدا کند وطالبان دامورشان تغییروارده‌نسازند، شاید ملل متحد یك روز همان کارهایي را که درعراق دنبال میکند وهمان محدودیت ها وشکنجه هـــایي راکه درمقابل حکومت عـــراق مرعي میدارد، شاید درمقابل طالبان نیز به اجرا بگذارد، زیرا بقسمیکه همه میدانند مفتشین سازمان ملل امروز درعراق ماموریت یك ارتش غربي واستکباري را پیش میبرند وبرعلاوه تحمیل جنگ چند ملیتي علیه مردم عراق وحکومت عراق تحدیدات اقتصادي بسیار ظالمانه یي را نیزوضع نموده اند کـــه به اثرآن نظام اقتصادي ومعاشي درعراق شدیداً متاثر شده وقحط ، گرسنگي و کمبود دارو مردم عراق را تاسرحد آخرمجال رسانده است .

جرم مردم عراق این بود که آنهاارتش قوي ونیرومندي را در شرق میانه رویکارآورده ومنافع غرب را مزاحم شده بودند . پیش گیري عملیات سازمان ملل درعراق بمعني آن نیست که گویا رژیم عراق یك رژیم اسلامي است. وملل متحد بااسلام مخالف است . ملل متحد درعراق باحکومت عراق کاري ندارد ، هـــدف این است که مقاومت وصلاحیت مردم عراق وجرئتي که آنها دربرابر غرب ازخود نشان داده اند سرکوب بشود واین کارتنبهي قرارگیرد براي سایراقوام ومردمیکه بخواهند ازخود ابتکارنشان بدهندوخیال سربلند کردن ازحلقه استکباري رادرسرداشته باشند .

دفاع ازحق حاکمیت مملکت کویت اگرچه یك شعـــار مشروعي بود وعراق حق نداشت که استقلال وتمامیت یك کشور دیگر را پامـــال نمایـــد ولي شعارحمایت از استقلال کویت ، براي سازمان ملل وقدرت هاي استکباري یك پوشش وبهانه بود .

استقلال وتمامیت کویت براي ملل متحد وغرب اهمیت نداشت چیزي که براي آنها اهمیت داشت وعاملیکه غرب وسازمان ملل را و اداشت که عملیات نظامي وسیاسي مشترکي را علیه عراق به اجرا بگذارد . تحدید منافع غرب بودکه باقوي شدن عراق به خطرجدي مواجه شده بود .

اماسوال این است که آیا احتمال یك چنین اتفاقي درافغانستان نیز ممکن مي باشد؟ آیا ملل متحد دربي مجازات طالبان خواهد برآمد وآیا این تهدید ها وهشدار هاي که ازطرف ملل متحد عنوان میگردد واقعاً جدي وازطي دل است ؟ اماوقتي روشن شده که هدف ازمداخله وعلاقه غرب وسازمان ملل درافغانستان تحدید مقاومت مردمي افغانستان است وهـــدف این است که نیروي ضداستکباري وغربي درافغانستان تضعیف بشود ، پس گروه طالبان که في الحال درجهت پیاده کردن همان اهدافي است کـــه غرب نیز دنبال آن است دیگرجایي براي این سوال باقي نمي ماند که فکر شـــود ملل متحد باسرگرمیهاي طالـــبان درافغانستان مخالفت نشان میدهد وراستي طالبان را هشدار میدهـــد .ادامه جنگ وخلع سلاح مردم افغانستان دوشاخصه مهم دراهدافي است کـــه غرب وملل متحد درافغانستان دنبال میکند. تازمانیکه گروه طالبان بـــه جنگ اصراردارد وتازمانیکه برنامه خلع سلاح عمومي ناتکمیل مانده ، مخالفت سازمان ملل درارابطـــه بـــا سرگرمیهاي طالبان ، مخالفت هاي تاکتیکي وزرگري است . ملل متحد بااین هشدارها وتهدید ها میخواهد وجوهات واتهامـــاتي را که بالاي طالبان وارد میشود دفع نماید واین سوال را از اذهان مردم زایل سازد که گـــویا عملـــیات طالبان موازي وهماهنگ بامقاصد غرب و سازمان ملل میباشد .

واقعاتي نظیر توقیف چند مامور وتحت این بهانه که گویا آنها کارمندان زن این موسسه را مهمان کرده اند از صحنه سازیهاي بسیارجالب وزیرکانه یي است که بادرنظرداشت خصوصیات وحساسیت هاي رواني افغانها تدارك دیده شده است . زیرا غربیها میدانند که افغانها به نوامیس شان وبه حفظ شئونات زنان افغان تاچه پیمانه حساس مي باشند وهرفرد وگروهي را آفرین میگویند ومورد حمایت قرارمیدهد که دربرابر حفظ نوامیس زنان افغان آنهم در برابر فرنگي ها وخارجي ها حساس باشند .

مطلب اینکه ، طالبان درمعني ومفهوم ودرخطوط وپالیسي هاي اصلي وکلي، هیچ حرکتي که منافي سازمان ملل متحد وغرب باشد، ازخود نشان نداده اند . هدف عمده سازمان ملل متحد تااینحال درافغانستان این است که مقاومت مردمي وصلاحیت سرسري مردم افغانستان به اثر دوام جنگ داخلي ویاتکمیل برنامه خلع سلاح تاحدنهایي تضعیف بشود ، تا آن حدي ازپابیفتد کـــه دیگر باراي مخالفت کردن بایـــك طـــرح غربي واستکباري رانداشته باشند .

گروه طالبان یك گروه بزرگ اسلامي است یك گروهي است که مثل دیگر گروههاي اسلامي ازمردم افغانستان تشکیل شده است ومعلوم است کـــه مردم افغانستان همه بااهداف معاندانه غرب وسازمان ملل در برابـــر اسلام ودربرابر ملت هاي مظلوم حساسیت ومخالفت دارند. ولـــي براي اینکه درمبارزه حق طلبانه ودراعتراض به مداخلات غرب وملل متحد صحیح

بقیه صفحه (۳) ستون (۱)

هدف عمده سازمان ملل متحد تا اینحال در افغانستان این است که مقاومت مردمی وصلاحیت سرسري مردم افغانستان به اثر دوام جنگ داخلي ویاتکمیل برنامه خلع سلاح تاحدنهایي تضعیف بشود ، تا آن حدي ازپابیفتد کـــه دیگر باراي مخالفت کردن بایـــك طـــرح غربي واستکباري رانداشته باشند .

دفاع ازحق حاکمیت مملکت کویت اگرچه یك شعـــار مشروعي بود ، عراق حق نداشت که استقلال وتمامیت یك کشور دیگر را پامـــال نمایـــد ولي شعارحمایت از استقلال کویت ، براي سازمان ملل وقدرت هاي استکباري یك پوشش وبهانه بود .

از فراز منبر

حقیقت حج

اگر درروشنی قرآن مجید غورشود این حقیقت یکلی واضح می گردد که مقصد اساسی وبنیادی دین تزکیه نفس است، نفس انسانی چهارجهت دارد، وجود حیوانی، وجود عقلی، وجود روحانی و وجود اخلاقی، وحج عبادتی است که باعث تزکیه وجود روحانی نفس انسانی می گردد.

اساسات روابط نفس با خدا چهار است ، اساس اول ذکراست، یعنی دل خویش را بایاد خدا معمورکردن، اساس دوم وفااست، یعنی عهدیکه انسان در روزالست با خدا بسته که بندگی او را می کند مطابق آن اطاعت وبندگی خدا را کند و درتمام زندگی خویش احکام ودساتیر خدا را مرعی دارد، قرآن مجید این وفا داری را درجای دیگربه کلمه«بر» تعبیرنموده است.

اساس سوم تقوی است ، قرآن مجید آن را به الفاظ خشیت، اخبات وقنوت هم تعبیر نموده است .

مراد ازتقوی واصطلاحات همردیفش اینست که انسان ازنارضائیت ومواخذه خداوند بترسد وتلاش کند ازانجامی نجات یابد که خداوند برای کسانی اعلان میدارد که مورد قهر وغضب خویش قرارمیدهد. اسا چهارم محبت است ، همین اساس است که مومن را به نصرت وحمایت دین آماده می کند و او را در باب دین غیرت وحمیت عطامی کند و او را از این احساس سرشارمی گرداند که کلمه ودین خدا را بلند نگاه دارد و اگردرین راه به جان اوهم ضرورت افتد دریغ نکند.

برای ذکر ویاد خدا نمازفرض گردیده است که بنده مومن درشب و روز خویش با رونما شدن هرتغییر وتبدیلی مهم درزمین و آسمان به مسجد حاضرگردیده سرنیاز بدربار خالق خویش خم کند وهر بار علاقه وبستگي خویش را بادین و خدا تجدید کند.

زکوة بحیث علامت وفا گردیده است، مطلب اینکه بنده مومن مال خویش را در راه خدا خرج می کند ، چنان خرج می کند که بخاطرخشنودی و رضای خدا متاع عزیزوگرانبهای خود را به دیگران تقدیم می کند و این روش ازیك شخص باوفاساخته است و بس .

برای آبیاری تقوی هرسال یکبار روزه ماه رمضان فرض گردیده است، علاوه برآن روزه نفلی هم مشروع گردیده ، پیامبرعلیه السلام خود هم در اوقات مختلف سال روزه نفلی وتطوع گرفته و امت راهم دستورمیدهد که بخاطربدست آوردن اجروثواب این اوقات را روزه دارند.

روزه نفس انسانی را تربیت پرهیزگاری میدهد وهمین چیزاساس تقوی محسوب میشود .

کاملترین مظهرمحبت جهاد است که در آن مومن بخاطراعلای دین خدا به جنگ و پیکار حاضر می شود حتی اگر درین راه به قربانی جا نش هم ضرورت افتد دریغ نمی کند .

حج مجموعه این تمام عبادت هاست که اصل اساسات همه را درخود جمع کرده است . خانه کعبه مرکز نمازهای ماست ، این اولین مسجدی است که به این مقصد بناگردیده است، درقرآن حکیم خداوند می فرماید : من ابراهیم و ذریت او را بخاطری درمکه جاه گزین نمودم که آنان این خانه مرا برای طواف کنندگان، قیام ورکوع کنندگان پاك نگاه دارند. برای ادای حج همین خانه قصد کرده می شود . قرآن حکیم مقصد نماز را ذکر یاد خدا قرارمیدهد و طواف همان صورت وشکل نماز است که فقط حاضرشدن به این خانه ادا می گردد . در این نوع نمازحکایت شمع پروانه تکرارمی شود ، بنده مومن پروردگار خویش را یاد کرده پروانه وار دورخانه اوگردش می کند .زکوة عبادتی است که طی آن بنده مومن مال خود را در راه خدا خرج می کند .

مومن آنچه را بخاطر اهتمام حج و زاد راه خرج میکند درحقیقت برای تسکین همین احساس وعزیزه صورت مي گیرد، انسان زمانی می تواند مصارف حج را تهیه کند که ازمصارف روزمره خود اندکی بکاهد و به این اعتبار احساس وجذبه انفاق او بیشتر اضافه وعمیق میشود.

مقصد از روزه آبیاری تقوی است ، این عبادتی است که در نتیجه آن مومن خو اهشات دینوی خویش را ترك گفته بطرف خدا می شتابد وبه او بیشتر نزدیك می گردد ، حج این احساس مومن را نیز به تمام وکمال پوره می کند زیرا انسان ضرورت های خویش را پشت پا زده مصارف حج را تهیه می کند وتمام روابط وعلایق خودرابریده بطرف خا نه خدا عزم سفرمی کند.

به همین ترتیب هجرت وجهاد هم ترك گفتن زندگي معصیت بارو سرگرم شدن در راه خدامی باشد درحج نیز مومن بخاطرخشنودی خداخانواده و اقارب خویش راترك گفته و مانند یك مجاهد درا وقات مختلف مراحل منزل وسفر را طی می کند ومشکلات آن را برداشت می نماید.

اگرحج را درنظرداشته باشیم این حقیقت بطورمشهود و ، ملموس جلوه گرمی شود که حج یك عبادت جامع است . بستن احرام علامت این است که ما علایق خویش را با دنیا قطع کردیم ومعاملات دنیا راترك گفتیم ، لباس نادوخته وسفید احرام این حقیقت را ظاهرمی کند که ما زیب وزینت زندگي دنیا را ترك کرده لباسی پوشیده بحضور خداحاضر شدیم که مرده آن را به تن کرده درقبر پایین می شود ، سپس در زبان ما ترانه ئی جاری می شود که با آن احسا س و الهانه خویش را بحضور خدا (ج) ظاهرمی کنیم وشکر نعمت های او را بجای آریم یعنی لبیك ،الهم لبیك، لاشریك لك لبیك ، ان الحمدو النعمته لك والملك ، لاشریك لك.

ادامه دارد

عبدالله بن عباس (رض) مفسر قرآن

درعهد صحابه کسانیکه درعلوم قرآنی شهرت داشتند عبارت ازخلفای اربعه، عبدالله بن مسعود (رض) ابی بن کعب رضی الله عنه، زید بن ثابت رضی الله عنه، ابوموسی اشعری رضی الله عنه، عبدالله بن زبیر رضی الله عنه وعبدالله بن عباس رضی الله عنهمابودند. گرچه سایرصحابه هم درعلوم قرآنی دسترسی داشتند اما به پایه اشخاص فوق نمی رسیدند، در این میان کم عمرترین شخص حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما بود که درعلوم تفسیرشهرت قابل ذکری حاصل نموده بود.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما درست سه سال قبل ازهمان حادثه ئی پا بدنیا گذاشت که قریش بنی هاشم را درشعب ابی طالب به محاصره کشانیده بودند، به این حساب دروقت وفات پیامبرعلیه السلام وی سیزده سال عمرداشت . لاکن بنابر استعداد خدا دادش و به برکت دعای پیامبر(ع) درحق او، درکمترین مدت درعلوم قرآنی وتفسیر چنان مهارت بدست آورد که نه تنها درمیان همسنگانش ممتاز گردید بلکه اکابرصحابه هم در این علوم بطرف اونگاه میدوختند.

دربعضی روایات آمده ، پیامبرعلیه السلام برایش دعا کرده که خداوند اورا حکمت و تاویل قرآن نصیب کند،این دعا خود یك شاهد زنده استعداد وتوانائی خدا داد او درعلوم قرآنی بود زیرا پیامبر علیه السلام در وجود او آثار جوهرقرآن فهمی مشاهده نموده در این عمربرایش دعا کرد تاخداوند او را درعلوم قرآنی ممتاز گرداند . زیراهمچو دعا درحالات عادی برای اکابرین و بزرگان موزون می باشد . مقام وجایگاهی که عبدالله بن عباس درعمرکم خود حاصل نمود از این امربخوبی واضح می شود که شخصیتی چون عمر رضی الله عنه در باره اومی فرماید : ابن عباس فتی الکهول له لسان سؤل وقلب عقول - کتاب الاستعیاب » یعنی ابن عباس جوان طبقه اکابر است ، زبان پرسنده ودل بادرك دارد.

صحابه جلیل القدری چون حضرت عمر که از عبدالله ابن عباس تعریف وتوصیف می کند بدان معنی است که او جوان عبقری بود و ذهانت و فطانت او بالاتر از عادت بود.

درکلمات حضرت عمررضی الله عنه که عبدالله بن عباس را بدان تعریف نموده است ، مرتبه ومقام علمی شوق وذوق ، پژوهشگری، ذهانت وفطانت فطري وی بخوبی نمایان میباشد .

وصف نمودن به چنان کلمات پاکیزه وصریح که شاید هیچ جوان دیگر از طرف چنین شخصیت بزرگ تعریف نشده باشد گواه برازندگي شخصیت اومحسوب می شود .

«فتی الکهول » گفته عمررضی ا لله عنه درجه ومقام او را چنان بلند نموده که از تصورخیلی بلند است یکمی غورکنید در آن عهد مبارك به کدام پیمانه کهول (اکابر) موجود بودند . که در علم وفضل، فکر و اجتهاد و زهد وتقوي به مراتب بس عالی فایز بودند، لاکن حضرت عمررضی الله عنه جوان خوردسالي چون عبدالله بن عباس را هم در صف آ نان قرارمیدهد و اعلان می کند که اوجوان این طبقه می باشد .

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه در آن عهدیك مفسرجلیل القدربود ، مرتبه ومقام او را ازاین میتوان درك کرد که خود راجع به خویش می گوید : قسم بخدائی که جز اولایق عبارت کسی نیست من راجع به هرآیت قرآن میدانم .

اگرمی دانستم که فلان نسبت به من درعلوم قرآنی بیشتر میداند گرچه سفردور و درازی ضرورت می بود که بدون سواری ممکن نمی بود حتماً خود را به او رسانیده ازفیض علومش خویشتن را بهره مند می گردانیدم . لاکن با وجود این جلالت مرتبه راجع به ابن عباس رضی الله عنهما می فرماید انعم ترجمان القرآن ابن عباس لوادرك اسنانتا ماعاشره منارجل: یعنی عبدالله ابن عباس چه خوب مفسروترجمان قرآن است اگراوهم سن ما می بود هیچ یك ازما جرئت همسری با او را نمی کرد.

بنابرهمین ذهانت وفطانت عبدالله ابن عباس بود که حضرت عمررضی الله عنه او را نهایت گرامی میداشت و برای رشد استعداد هایش زمینه فراهم می نمود، حتی او را درمجالس مشاورت دعوت میداد، از وی می پرسید ورأي ونظرش را گرامی میداشت ، بعضی بزرگان در آن عهد باوجود که عهد تقوي وپاکیزگی بود حضور او را درمجالس مشاورت چندان پسند نمی گردند ، اما حضرت عمر(رض) باوجود این ناخشنودی آنان او را درمجالس می خواست، ازوی می پرسید ودرمسایل مختلف رای ونظرش رامعلوم می کرد، زیرا عمررضی الله عنه می دانست که استعداد جوانان زمانی خوب ، رشد می کند که به آنها فرصت داده شود تا در حضور بزرگان جوهردانشمندی خویش را ابرازنمایند عمررضی الله عنه با نهایت فیاضی وسخاوتمندی برای عبدالله بن عباس رضی الله عنهما چنین مواقع فراهم می نمود اماچون احساس کرد که بزرگان صحابه نسبت کم عمری اورا بخاطرنمی آرند وبه وی وقعی قایل نمی شوند او را درمحفل بزرگان مورد امتحان قرار داده ثابت کرد که او واقعاً اهلیتهء استعداد حضور به مجالس بزرگان را دارد زیرا فراست وذهانت اوکمتر ازبزرگان نبود .

عمررضی الله عنه به این نظر بود که ریشه واساس تمام علوم وقراست در قرآن است پس کسیکه در علوم قرآنی یدطولاداشته باشد ونسبت به بزرگان دراین رابطه ممتاز باشد نباید امت به این دلیل که عمر اوکم است ازفیوض اومحروم شوند.

امام بخاری ازعبدالله ابن عباس روایت می کند که فرمود :عمررضی الله عنه مرا درمجالس بزرگانی دعوت میداد که سعادت وشرف حضور درجنگ بدر را حاصل کرده بودند، بعضی ازبزرگان حضور مرادرهمچو مجالس پسند نکرده اعتراض نمودند که چرا او با این کم عمری درمجالس بزرگان حاضرمیشود ، حضرت عمررضی الله عنه بجواب آنان مي گفت : عبدالله ابن عباس به یك خانواده عالم وفاضل تعلق دارد که شما از آن بخوبی آ گاهی دارید، چنانچه او بزرگان صحابه را دعوت داد ومرا نیز دعوت داد وبرای معلوم نمودن استعداد من ازمجمع صحابه پرسید که درسوره «اذا، جاء» بطرف چه چیزی اشاره شده است بعضی صحابه خاموش شـــدند وبعضی دیگرعرض کردند که خداوند ما را دستور داده که چون فتح و پیروزی نصیب ما گردد شکر اورا بجا آریم و از اوطلب مغفرت کنیم سپس عمر رضی الله متوجه من گردیده پرسید نظرشما چیست، من عرض کردم که در این سوره بطرف وفات پیامبر علیه السلام اشاره گردید، ظهورفتح ونصرت علامه وفات پیامبر علیه السلام قرار داده شده است و درپهلوی آن به تسبیح و استغفارهم هدایت داده شده است، حضرت عمررضی الله عنه این را شنیده فرمود ومن هم راجع به این سوره چنان میدانم که تو فکر می کنی .

(الاتقان فی علوم القرآن للسیوطی)

ادامه دارد

زنـــدگـــی سعادتمند

همه میدانیم که شادماني وآرامش دل وسالم نگاه داشتن آن ازغم واندو مطلوب همه کس است وفقط به همین چیززندگي سعادتمند میشود وشادماني خودبخود براي انسان حاصل نمیشود بلکه اسباب دارد که باحاصل شدن این اسباب زندگي انسان سعادتمند وشادمان میشود واین اسباب سه گونه است . اسباب دیني اســباب طبعي واسباب علمي .

برخي ازمردم به این اسباب دست یافتند پس زندگي خوش وآرام نصیب شان شده است وبرخي دیگرمردم برهیچ یك ازاین اسباب دست نیافته وزندگي ایشان بار دوش شان شده وهمین دنیا براي شان دوزخ گردیده است وبرخي دیگرازمردم ایـــن اسباب را دردست داشتند و ازاندکي آن استفاده کردند ودیگرش فوت شده از دست ایشان درحالت وسطي قرارگرفته اند .

وتوفیق دهنده برخیرونجات دهنده ازشر فقط خداوند تعالي است وازوي کمك ومدد خواسته شود .

۱ - ازجمـــله اسـباب خوشي وشادماني بزرگترین واساسي ترین سببش ایمان صحیح وعمل نیکواست وچنانچه خداوند (ج) فرموده است که (هرکه عمل صالح کند دراین دنیا زندگي خوش ومملوازشادماني برایش مي بخشد ودردنیاوآخرت برایش خدا نیکویي میدهد) وکسي که ایمان صحیح وعمل نیکوصالح داشته باشد هرخوف وحوادث که ؛ ان بیاید دلش ثابت وروحش آرام میباشد واگرکسي ایمان صحیح وعمل صالح نداشته باشد هرخوف وحوادث که بهیان بیاید دلش بلرزه وروحش نارام میباشد .

۲ - ازجمله اسبابي کـه غم واندوه را ازبین میــبرد وبجایـــش خوشي وشادماني رامیاورد احسان کـــردن بامخلوق خداوند (ج) است . احسان کردن چه باگفتار باشد وچه باکردارباشد ، دربرابر کدام مخلوق خداوند (ج) واحسان کردن شان غم واندوه راازبین دلهاي شان دورمیسازد هرچند که احسان کننده کافرباشد چنانچه شاعري میگوید :

ازمسلمان ظالم کرده کافرعادل خوبتر است

۳ - آدم عاقل وهوشمند بخوبي میداند که زندگي صحیح وراستین همان است که باسعادت وخوشوقتي همراباشد واین راهم ه داند که زندگي خیلي کوتاه است لذا برایش قطعاً متاسب نیست کـــه دیگر آنرا باغمها واندوه ها کوتاترسازد . زیراکه زندگي آمیخته باغم واندوه اصلاً زندگي درست حساب نمیشود ، باید سخت حرص کند براینــکه غمهاواندوه ها را بابکاربردن اسباب خود رانجات دهد چه آدم نیکوکارباشد چه آدم بدکارباشد ومرد مومن بهـــتر وقویتر مي تواند بااسباب دست داشته خویش زندگي خودرا از غمهاواندوه هاهم دردنیاوهم درآخرت نجات دهد . وازسوي

بقیه صفحه (٤) ستون (۷)

هشدار های ملل متحد به طالبان ...

عمل نمائیم خوب است الگوهاي بزرگ رامدنظر داشته باشیم .

باید بدانیم که هدف اصلي وعمده غرب درافغانستان خلع سلاح مجاهدین وادامه جنگ است . اگرمیخواهیم براي جنبه ضـد استکـباري خود حرکت وعلامتي بیافـریـنیم واگرمیخواهیم حافظ نوامیـــس ملـي و کشوري افغانستان محسوب شویم باید براي سد باب ساختن جنـــگ ، براي پایان برادرکشي و سـیاست انحصارطلبي اقدامي نمائیم کـــه همه شؤنات مردم افغانستان را متالم ومتاثر نموده است .

ملل متحد باتبلیغـــات نظـــیر گرفتاري چند کارمند خارجي ازطـرف طالبان وبادراعتراض بـــه اینکه گویا طالبان درخصوص زنان ومسایل حقوق بشرمخالفت وحساسیت ملل متحد را باعث شـــده اســت میخواهد نقش قدمهایي را کم کـــند که این سازمان درافغانستان دنبال کـــرده است . ملل متحد میخواهد مقاومت مردمي را درافغانستان تضعیف کـند سلاح مردم راجمع وگروهـــهاي سـیاسي وجهادي آنهاراواژگون نماید وهرگروهي که به جنگ اصرار نماید وشعار خصومت وانحصارطلبي بدهد واضح است که بااین هدف استکباري هماهنگ است .

د سـوډان اسـلامـي حکـومـت پـه خـلاف د نـړیـوال سـامـراج سـازش

داخبره اوس لـه هیچانه پټـه نده پاتي چي دنوي نړیوال نظام بیرغ چي امریکا له اسرائیلي سامراج سره یوځاي کوښښ کوي چي مسلمان هیوادونه بي لاس اوبي پښوکړي اوپدي ترتیـب دهغوي په شتمني گـیډه واچوي، دي مقصدته درسیدوله پاره پوره منصوبه جوړه اوپه کروړونو دالرئي پـــه کار اچولي دي، د منصوبي لمـــړي هدف دایران اوسوډان اسلامي حکومتونه دي، ددفاعي مقصدونوپه نـوم شل ملیونه دالرئي دسوډان گاونـــډي هیوادولکه ایتوپیا، اریتیریا ، کینـــیا، یوگندا ، چاد اومرکزي افریقاته ورکړیدي، دغه هیوادونه دامریکاپه اشاره دسوډان په خلاف په گوریلاي عملیاتو بوخت دي اوکوښس کـــوي چي د سوډان اسلامي حکومت تسکوراوپرځاي ئـــي دخپلي خوښي حکومت قائم کــړي، دجنرال عمرالبشیراسلامي حکومـــت دسختو گوریلاي عملیاتو اوبریدونو لاندي دي، لـــدي نـــه مخکي امریکا پرسوډان دده‌شت گردي په بهانه اقتصادي بندیز ورباندي لگولي دي .

سوډان پـــه افریقا کي ترټولو لوي اسلامي هیواددي چي لس لکه مربع میل مساحت لري او نفوس ئي شل ملیون (دوه کروړه) دي، نوموړي هیواد دجنوري په ۱۹۰۷ع کال کي آزاد شوي، دیرش کاله یکي مارشل لا ، اولس کاله سیاسي گـوندونو حکومت کړیدي اوسني نظامي حکومـــت چي دجنرال عمرالبشیر په مشري جوړشوي اوپه هیوادکي بشپړاسلامي نظام ئي قائم کړیدي دکفري نړي په سترگوکي اغزي جوړشوي دسوډان آخرني منتخب صدراعظم صادق المهدي هم دلسوکالو چوپتیا نـــه وروسته له خپل هیوادنه مصرته تللي دي ، دمصریانو په خیال کیداي شي چي صادق المهدي پهٔ‌داخلي اوبیروني فشارپه نتیجه کي عمرالبشیر استعفاته مجبورکړي ، اوپدي توگه به په سوډان کي یوئوي سیاسي حکومت جـوړشي، خـوله قرائنو اوشواهدونه معلـومـیږي چـي ددامي حالاتو دپیدا کولو امکان نشته .

دمصرله تخت نه دشاه فاروق له معزولي نه وروسته سوډان دمصرېوه برخه وه خو له آزادي نه وروسته دیړژر کفري هیوادو دسوډان جنوبي سیمي عیسویانوته وسلي اونورمهمات ورکړل ترڅو له سوډان نه آزادي ترلاسه کړي، له تیروځلویښتوکلونراهیـــي په جنوبي سوډان کـــي دعیسویانو گـــوریلاي جنگــرتـــه روان دي، خـــو دجنرال عمرالبشیر د اســـلامـــي حکومت له قائمیدونه وروسته غربي هیوادونه زیات پریشانه دي چي هسي نه په جنوبي سوډان کي دعیسویانو دآزادي تحریك ناکام نشي، همدا وجـــه ده چي غربي دنیا دامریکا پـــه مشري متحرك شوي اوپه پوره توان کوښښ کوي چي نه یوازي عیسویان دیوآزاد حکومت په جوړولو کـــي برلاسي شي بلکي دعمرالبشیراسلامي حکومت هم لـــه پښو وغورځوي، دگوریلاي جنگونومشري دجان قرنق نومي دگرمن ته ورسپارلي اوبه دیرپوځي مهمات ئي هم ورکړي، که څه هم جان قرنق له مائي سره مخامخ شوي او دسوډان اسلامي حکومت پوځونوپه وړاندي بي بس شوي خو امریکا دهغه دزیات قــوي کولو اوبیرته په خپلو پښوودرولو لـــه پاره دسوډان گاونـــډي هیوادونه ئـــي په کاراچولي دي اوله څلوروخوانه ئي پرسوډان نوي بریدونه پیل کړیدي، په خاصـه توگه اریتیریا خوپه ښکاره توگه دگوریلاي جنگونو دملاتړاوسرپرستي اعلان کـړیدي . اسلامي هیواد سوډان دخپلي آزادي اواسلامي تشخص دبقاله پاره له دښمن سره په جنگ بوخت دي څکه چي صلیبي اروپا اوامریکاپدي لته کي دي چي دسوډان جنوبي سیمه آزاده اوهلته یوگوډاگي عیسـایي حکومت جوړکړي، اوپدي ترتیب امریکااروپا اویهود دبحراحمر (سوردریاب) شاوخواترانگي پخپلي ولجه کيْ راولي اودآسیا اوافریقانه علاوه دگردي نړي تجارتي او اقتصادي معاملاتو باندي بشپړکنترول ترلاسه کـــړي ، تراوسه پوري دگوریلاي جنگونو په نتیجه کي باغیان دځو ښارونو په نیولو کامیاب شوي او دسوډان یواځیـــني بندرگاه پورت هم پـــه خطرکي دي که خدانا خواسته دسوډان اسلامي حکومت ناکام شي نودگردي اسلامي نړي له پاره به یولوي تاوان وي دنړي ټولو مـسلمانو هیوادونه پکاردي چي نوردغفلت له خوب نه بیدارشي بودلي اوبي غیرتي له ژوند نه دي ئوبه ویاسي اوژر ترژره دي دخپل مسلمان وروږ هیوادسوډان سره هرارخیزي مرستي ته ملاوتړي په خاصه توگه مصر تـــه پکاردي چي دسوډان پـــه جنوبـــي سیمه کي دعیسویانو دجدا آزاد هیواددجوړیدو دمخنیوي له پاره هـــلي ځـلي وکړي . څکه چي دعیسویانو آزاد هیواد به له هرچانه زیات تاوان دمصر لـــه پاره وي داپدي خاطر چي دنیل دریاب دسوډان له جنوب څخه تیریږي ، که دنیل په دریاب دعیسویانو قبضه وشي نوداپه دمصرله پاره لویه تباهي وي، نه یوازي اقتصادي اوتجارتي تاوان سره به مخامخ شي بلکي اسرائیل به هم دلوي یهودي دولت دجوړولو اوداسلامي نړي دمحاصري لاندي پــه راوستو کي کامیاب شي الله دنکړي .

اختلاف

بـــربـــادی اونـــابـودی ده اختـــلاف
د دښمن امیـــــدواری ده اختـــــلاف
مســـولیـت د آخــرت یــی گوره لاډیر
پـــه دنیـــاکښی رســـوایی ده اخـــتلاف
ملتـــونه پـــه نفـــاق کښی هلاك شوی
د قـــومـــونـــو تـبـــاهی ده اختـــلاف
ښـــه او بـــد په کښي په یوه تله تلل شي
بـــی نظمی او گـــډوډی ده احتـــلاف
لوی قوت پـــه اختلاف کـــمزوری کیږی
په جهانی کی بـــد نامی ده اختـــلاف
لاس به مروړی خو وختونه به بـــیانه وي
ســـرانجـــام پښیمـــانـــی ده اختلاف
د تـــهـولنـــی اوملت پـــه گټه نـــه ده
خـــو دخـــواهی اوځان ځانی ده اختلاف
عاقبت لـــه بـــدبختی ســـره مخ کیږی
دغـــه لاره شیـــطانی ده اختـــلاف
«کاف لامـــه» اتحاد د قام ژوندون وي
گـــوره تـهولـــه نـــاکامي ده اختلاف

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۳۳٦) سال نزدهم پنجشنبه (۱۳) حوت ۱۳۷۵

قیمت یك شماره (۱۰۰۰) افغانی (۳ روپیه)

نبوي لارښوونې

له حضرت عبدالله ابن عمر (رض) نه روایت دي چي حضور (ص) دحضرت سعد ابن عباده پوښتنې ته چي عبدالرحمن ابن عوف (رض) سعد ابن ابي وقاص (رض) او عبدالله ابن مسعود (رض) هم ورسره ملګري وو ، ورغلل دحضور (ص) (چي دهغه نازك حالت لید) له سترګونه یې اوښکې لاړې . اصحابوچي دحضور (ص) ژړا ولیده ،نو هغوي هم په ژړا شول . بیا حضور (ص) وفرمایل : ایا تاسو ندي اوریدلي چي الله تعالیٰ دسترګو په اوښکو یا د زړه په خفګان سزا نه ورکوي . سزا خو پدې ورکوي . یا وربانديي رحم وکړي ، معاف یې کړي . اشاره یې ژبي ته وکړه . (چي دژړا سره چیغې یا ستاینې کوي)

(بخاري – مسلم)

احکام دین خودرابیاموزیم

تکبیر تشریق

۱ – تاریخ نهم ذوالحجه راروز عرفه گویند، وتاریخ دهم را روز النحر، وتاریخ یازدهم تاسیزدهم را ایام تشریق، وآن تکبیري که بعدازنمازهاي فرض، در پنج روز گفته میشود آنـرا تکبیر تشریق میگویند

تکبیرتشریق

الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر ، الله اکبر ولله الحمد

« الله ازهمه بزرگتر است، الله ازهمه بزرگتراست، غیر از آن معـبود دیگري نیست والله ازهمه بزرگتر است وهمه حمد وستایش هامرخداي را است » .

۲ – تکبیرتشریق را ازصبح روز عرفه شروع کرده، تانماز عصـر روز سیزدهم ذوالحجه ، بعدازهرنماز فرض ، باید بخوانند . یعني خوانـدن آن در ۲۳ وقت نماز واجب است .

دشطرنج پیاده ګان

وایی چي په شاهی وخت کی د معمول په څیریو ډیر نا اهله سړی په کابینه کی د وزارت لپاره وټاکل شو. هغه چي خبرشو نو خوله یې له خوښۍ څخه نه راټولیدله ، له یوڅه مودی وروسته یې تشریفاتي جامي واغوستلي او د پاچا یا نفوذه خپلوانو کره د ورسره شوی احسان د شکریی اومنتی، ډا دا کولو لپاره لاړ. د پاچا یونیږدی خپل چي له عمره پوخ او د زمانی سړی تودی یې ډیری لیدلی وی . هغه د چا خبره «ګرګ باران دیده »و ، دغه نوی وزیرله پخوا نه پیژانده ، دهغه د پوهی او استعداد سراولم دواړه ورته ښه څرګند وو ، نوی وزیر به چي پخواهغه کره د اظهار عقیدت نه ، بلکه اظهار تملق لپاره ورته، نو دوره څوکیدار ته به یې له خپل نوم سره داسی لیکل : خادم شما فلانی آرزوی مشرف شدن بحضور والاشان را دارد.

خو داځل یې د وزارت په نشه کی داهرڅه له یاده وتلی وو او د دروازی ساتونکی ته یې وویل : سردار صیب ته ووایه چي « وزیرصیب فلانی خان تشریف آورده . » سردارصیب ته چی د پخوانی خادم ، نوی رقعه ورغله ، نو دلرغونی خادم د غروریه دی ناڅاپی احساس مسك شو . څرنګه چي نوی وزیر صیب د پاچا دغه خپلوان کره تر نوروله‌،ناوخته بلکه وروسته راغلی ؤ له همدی امله د هغه په وچولی کی ورته له ورایه ګونځی موجودی وی . له ځان سره یې وپتیله چي د هغه غوږونه لږ تاوکړی څوییرته ورته د «خادم شما فلانی» وخت ور په یاد شی او د وزیر صیب اوفلانی خان هوایی له سره وځی .

وزیرصیب چی د سردار صیب حضور ته باریابه شو ، نولاس یې پرسینه کیښوده اوراغبرګ شو، د وزارت مسکایی په شونډو خوره وه . د معمول نه یې لږیه کمه اندازه توصیفی اوتعریفی کلمات استعمال کړل، داسی نه چی له هغه سره د یې ځایه تعریف اوتوصیف څه کمی و ، بلکه له وخته مخکی ورسره دا احساس پیدا شوی و چي ا وس خو نو زه وزیریم ، نوڅرګنده خبره ده چي مهم سړی هم یم اوس خونو دوی هم بایډ لږ ترلږه د وزیر په سترګه راته وګوری ، خدمتونه می هم ډیرکړی دي ، دخارجی شهادتنامی عنوان (داکتر) می هم له نامه سره پیوند دی.

نور نوزه له چانه په څه کی کم یم چي له وزیر نه راته په ټیټه سترګه وکتل شی. اویله دا ده چي د دوری پاچایی خوهم په همدا موږ غوندی کسانو جوړه ده .

هو ! پاچایی خو هم یواځی نه کیږی نو .

د وزارت له نامه سره له نوی وزیرصیب سره په ډیر شدت د شخصیت احساس پیدا شوی و ، په ځان یې د ډیربرجسته شخصیت ګومان کیده، حتی دایی هم په زړه کی تیره شوه چی که د وزارت په دوران کی مړشوم ، نوله رادیو نه باید زما د مړینی خبرحتما داسی خپورشی چي : «د مرحوم د مړینی له امله چي کومه خالیګاه را پیدا شویده، هغه به تراوږدی مودی پوری ډکه نشي بلکه بالکل به په اوږده موده کی هم ډکه نشی...

یا دا چي«د مرحوم مړینه دملت لپاره یوه نه جبران کیدونکی ضایعه ده.» نوی وزیرشخصیت له دغه رازاحساس سره د سردارصیب په حضور کی ناست و . خو سردارصیب ته هماغه موږك ښکاریده چي د پیرصیب په دوعا پړانګ شوی و او بیایی د هغه په مخکی په خپل پړانګ توب ویارکاوه ، په پیرصیب د هغه ویارنه ښه نه وه لګیدلی، نو ور ته ویلی یې ووچی وه موږکه ا ته څنګه د پړانګانو، پیښی کوی، هغه خواربیا سمدلاسه بیرته موږك شوی و اوچي د پیشو میاو، میاویی واوریده نو بیایی اته اتیا ګزه سوری ته توپ وهلی و .

سردار صیب د خبرو په ترڅ کی له وزیرصیب نه پوښتنه وکړه چي په شطرنج پوهیږی . وزیرصیب ورته وویل، پوهیږم صیب خوستاسی به سویه نه . دا ډیره موده می د مصروفیتونو له امله ورته هیڅ وخت ندی پیداکړی ، ډیره په زړه پوری لوبه ده . بیله دی نه چی هغه ته یی وخت ورکړی وی په یوه توصیفی جمله یی د هغه په روحیاتو داسی ګوزاروکړ: اوریدلی می دي صیب چي ته په دی لوبه کی د لوی لاس خاوند یی ، هرچاته په یوه شیبه کی په ډکه تخته مات ورکوی. که څه هم داسی ستاینیزی جملی به د سردارصیب د ورځی په سوونو اوریدی ، خو چي څومره به یی اوریدی نوهماغومره به یی ورته د اوریدو تنده او لیوالتیا نورهم زیاتیدله .

« اوردخس په قدر زوورکاله قدیه» په دی خبره یی د تندی یی شمیره ګونځی چي هره یوه یی د ژوند د ګنو ښواو بدو حوادثو شاهده وه وغوړیدی . د یوی لنډی شیبی لپاره یی ذهن د ماضی په لور لاړ، د افغانستان دسیاسی شطرنج په لوبه کی هغه ریښتیاهم تکړه لوبغاړی و او اوس یی هم عملا په لوبه حاکمیت درلود . د نوی وزیرصیب په ځوا ب کی یی همدومره ویل:« دا د شاهانو لوبه ده . یواځی همدوی پری ښه پوهیږی، خو زمامقصد دا وچي ته پوهیږی چي په شطرنج کی کله د دواړوخواوو سواره له مینځه لاړشی، نوهرپیاده چي د پاچا او وزیر د کورمخی ته وی اوځان د مقابل لوری پاچا ،و یا وزیر کورته ورسوی، البته داکار خاص مهارت غواړی چي یو پیاده د پاچا اویا وزیر کورته ورسول شی اوهغه بیا په خپله د وزیرحیثیت غوره کړی اوکټ مټ د وزیرپه څیر په لوبه کی مطرح شی.

نوی وزیر د سردار صیب د خبری دتائید په توګه سروخوځاوه او وی ویل :" هو ا ریښتیا هم دادیرګران کاردیاوخاص مهارت غواړي چي یو پیاده د وزیرخانی ته ورسول شی .

سردارصیب له هغه نه د خبرو واګي ونیو اووی ویل : دحکومت او پاچهی کارونه تر زیاتی اندازی د شطرنج لوبی ته ورته دی ، بلکه ترهغی لازیات کړاو زړه چاودون غواړی، ځکه په دی کارکی لوی مصیبت دا دی چي د اوږدی مودی له کړ اونه وروسته به یو پیاده د سورو مقام ته ورسوی ، احسان به پری وکړی، خوچي کله هغه دغه مقام ته ورسیږی، نو بیا به ورته ځان ریښتونی سپور او وزیر ښکاری، په داسی حال کی لکه څنګه چي د شطرنج د پیاده رسول د وزیر او پاچا کورته په شطرنج وهونکی پوری اړه لری او د پیاده خپل وجود څه خاص ارګښت نلری،نو په همدی توګه یی د سو رو برخلیك هم به لوبغاړی پوری اړه لری.

ته خو پوهیږی که نه چی کله ناکله د یوه خاص مقصد په نظرکی نیولو سره د شطرنج لوبغاړی خپل سپور په پیاده بدلوی مطلب می دادی ته خو شکر پوه سړی یی ، هغه پیاده ګان چي د پاچا او وزیر کورته رسیږی هغه په اصل کی بیا هم پیاده ګان دی، که لوبغاړی په نوی لوبه موافقه وکړی، نو پیاده ګان به بیرته د پیاده ګانو په ځای ا یښودل کیږی.

د سردار صیب د خبرو په پای کی د وزیرصیب په تندی یخه خوله راټوکیدلی وه، دکاذب احساس ماڼی یی ډړی وړی شوی ، « . دسردارصیب له کورنه چي بهر راووت نوهلته یی نورهم یی شمیره پیادګان د باریابی لپاره منتظرولیدل .

له هغه سره په هماغه شیبه دا زړه سولوونکی اندیښنه ملګری شوه ، چي هره شیبه داامکان شته چي له منتظرو پیاده ګانو سره عوض او معاوضه شي. ددی ترڅنګ داځوروونکی پوښتنه هم ورسره ملګری وه چي آیا هغوی (منتظرپیاده ګان) به هم په دی خبروی چي د سیاست په دی بی باکه شطرنج کی څه حیثیت لری اوبرخلیك یی د کوم هوښیاری لوبغاړی په لاس کی دی . پخپله خو اوس په دی ښه پوه شوی وچي زمامړینه ، نه جبران کیدونکی ضایعه نده، اونه زماله مړینی وروسته کومه خالیګاه را پیدا کیږی، ځکه د پیاده ګانوا څه کمی دی.

دامریکا داستخباراتو

اقدام له یوکال تحقیقاتونه وروسته شوی دی.

دلندن په هوایی

تقدي پیسي دامریکاله خوا دامداد په توګه مسکوته لیږلي اوټول لس ملیونه ډالره ؤ چي په بوجي کي لیږل کیدل له هغي نه یوه بوجي په هوائي ډګرکي ورکه شوه .

درپوټ په اساس پولیس ګومان کوي چي داکاردهوائي ډګردعملي څخه څینو کسانوکي چاکړي چي پدي لړکي دامنیتي چاروماموریني اوپنډیانو نه تحقیقات پیل شوي دي .

مژده به خواهران افغان

اعلان کانکور

پوهنتون امهات المومنین براي سمسترجاري خود در رشته هاي طب عمومي ، طب دندان ، کمپیوټر، ساینس ، ادبیات انګلیسي وعلوم بشري محصلات مي پذیرند .

ثبت نام الي تاریخ ۱۹۹۷ – ۳ – ۸ بشمول روز جمعه ادامه دارد .

امتحان کانکور به روز دوشنبه مورخ ۱۰ – ۳ – ۱۹۹۷ ساعت "۱۰" بعد ازظهردرمقرپوهنتون اخذ میګردد .

آدرس : خانه ٦۳ – سرك ۳ فیز ۱ 1 D 1 حیات آباد – پشاور

محمد خالد « همت یار »

ګډون درلود .

غونډه دقرآن عظیم الشان په تلاوت پیل شوه چي وروسي ډاکـتر عزیزالله سالك دغونډي برخوالوته خپله افتتاحیه وینااوروله ، تـر هـغه وروسته بیا دمحصلینو دتنظیم عمومي ناظم محمد خالد همت یاردخپل یوکال ناظمیت دکاروراپور حاضرینوته وړاندي کړ .

اوپدي هکله یي دمحصلینو اوغونډي دګډون کونکو پوښتنو او انتقادونوته ځوابونه وویل .

دخالد همت یـار تـر وینا وروسته دانتخاباتو دکمیسیون رئیس علي احمد فکري، دانتخاباتو دطرحي څرنګوالي ګډون کونکوته تشریح کـړ او دراپي ورکولو جریان پیل شو .

دانتخاباتو دنتایجو تـر اعلان پوري دحزب اسلامي ددعوت اوتنظیم رئیس مولوي جانباز سرفـراز ، دجمعیت العلماي افغانسـتان رئیـس قاري مومن، اوقاضي حکیم په خپل وار خبري وکړي ، په پاي کي دافغانستان داسلامي پوهنتون رئیس ډاکټر فیض الله کاکړوینا وکړه .

تردي ویناوو وروسته ددعوت اوتنظیم رئیس مولوي سـرفراز دانتخاباتو نتایج اعلان کړل چي په لاندي ډول دي :

محمد خالد « همتیار» دمحصلینو داسلامي تنظـیم عمومي ناظـم ، ډاکټر عـزیـزالله سالـك ، دمحصلینو داسـلامي تنظـیم مرسـتیال ، محمد نادرارمان اداري مسئول، قاري عبدالهادي ، ددعوت اوتنظـیم مسـئول ، اسدالله داطلاعاتو مسئول ، رضوان الله دارتباط مسئول ، علي محمد فکري مالي مسئول ، توریالي هشمتیار سیاسي مسئول ، محمد قسیم رشیدي فرهنګي مسئول ، سمیع الله نصرت داجتماعاتو دتدوير مسئول ، قاضي عبدالحمیـد داحتساب مسئول ، انجنیر صلاح الـدین دتنظیم عمومي ویاند او صالح محمد دشورا غړي .

جنګ فراګیر

نیویورك تایمز مضموني تحت عنوان «آیا طالبان قادرخواهند شـد وارد حریم جنرال دوستم ګردند » .

چاپ شده که ازبي اعتمادي وعدم همکاري میان نیروهاي ضد طالبان یاد آوري شده اسـت روزنامه مینویسد اختلافات موجود میان ائتلاف مخالفان ، طالبان را بـه تصرف شمال افغانستان خوشبین ساخته است .

روزنامه مي افزاید طالبان پس ازیك سلسله پیشروي هاي دراستقامت شمال کابل اکنون جنګ راتوقف داده ومصمم اند بااعزام نمایندګان شان بـه مناطق مخالفان باقوماندانان محلي تماس برقرار نماید وازاینطریق ، مناطق باقیمانده را زیر کنترول خود درآورند .

جان برنز خبرنګار این روزنامه که دراین اواخر ازافغانستان دیدن کرده مي نویسد کـه احمـد شاه مسعود به قوماندانانش دستورداده که آماده دشوار ترین حالات باشند .

این خبرنګار که بااحمدشاه مسعود نیز دیدار نموده مي افزاید « مسعود » وقوماندانان وي مصمم اند درمقابل طالبان مقاومت نمایند .

امادرمورد موفقیت وعدم موفقیت شان اظهارنظر نکرده است .

روزنامه راجع به وضعیت سیاسي واقتصادي درمناطق تحت کنترول جنرال دوستم مي نګارد کـه ازیکسو اکثر مردم دراین ساحات ازروش خصمانه افراد مسلح جنرال دوستم ناراضي به نظرمي رسند وازطرف دیګـر دوستم بیشتر نیروهاي تحت فرمانش را بمزار شریف انتقال داده است .

همچنان افزایش بحـران اقتصادي عرصه زندګي برمردم افغانستان بخصوص اهالي شمال این کشور راتنګ ساخته وباشندګان این مناطق درمورد طالبان هم محتاطانه سخن مي زنند .

روزنامه نوشته که تمام مساعدت هاي مالي ونظامي خارجي به جنرال دوستم مي رسد درحالیکه اهالي شمـال افغانستان درفقروګرسنګي بسرمي برند .

منبع دراخبر بـه نقل ازجنرال یوسف سخنګوي جنبش ملي نګاشته که جنرال دوستم بـه کمك نظامي نیازي ندارد اماچاپ پـول هاي فراوان ، شرایط اقتصادي مردم را وخیم ساخته است .

ملا متقی نقش

این هئیت پس ا زعودت ازکابل طی صدوراعلامیه در پشاور، اقدامات تحریك طالبان در افغانستان را تـوصیف کرده و حمایت علماي پاکستان را از طالبان اعلان داشت .

ملا حمد الله و زیرزراعت طالبان ګفتګوی جداګانه با این هئیت درکابل متذکر شد که تاجران پاکستانی می توانند رول مثبتی را دربخش انکشاف صنعت وتجارت وفعال سازی فابـریکه های افغانستان ایفاء نمایند .

وزیرزراعت طالبان ازتاجران پاکستانی دعوت نمود که درجهت اعمار مجدد وانکشاف صنعت وتجارت افغانستان ګام هاي عملی بردارند .

اکثرافغان ها به جرم های

معاون قنسلګری طالبان علاوه کرد که انتظار می رود طی چند روزآینـده کمیسیون بررسی احوال محبوسین افغان باشرکت مقامات پاکستانی و قنسلګری افغانستان در پشاور دایرګردد و این کمیسیون افرادی را که دارای دوسیه عادی می باشند، آزادخواهد ساخت .

دوجوان فلسطینی

صهیونستي درګیرشده باسنګ به این سربازان حمله نمودند .

قرارګزارش آژانـس خبري فرانسه درجریان این درګیري نیروهاي اسرائیلي به سوي تظاهرکنندګان فلسطیني آتش کشوده دوفلسطیني جراحت برداشت .

دفاع ازمناطق

خواهد شد.

کریم خلیلی اضافه کرد: اګرطالبان برحل قضیه افغانستان ازطریق جنګ وصیله تفنګ عقیده داشته باشند یقیناً برمشکلات شان افزوده خواهد شد ، بهرحال اراده جدی مردم هزاره جات این است که قاطعانه از مناطق خویش در برابر مهاجمین دفاع می کنند .رهبرحزب وحدت که با رادیوی ایران صحبت می کرد اظهار داشت : این یك واقعیت است که طالبان به پروسه مذاکره ومفاهمه وحل قضایای کشور ازطریق مسالمت آمیز صادقانه التزام نمی نمایند . طالبان طوری که در دور قبلی مذاکرات بجنګ متوسل شدند در جریان دور دوم ګفتګوها نیزحملات وسیع خود را در شمال کابل درمناطق لولنج ، ترکمن دره وشیخ علي مواضع حزب وحدت اسلامی آغاز کردند که همه این وجوهات بیانګر فریبکاری طالبان می باشد .

رهبرحزب وحدت اسلامی یاد آور شد که طالبان درچند جبهه بامخالفان می جنګند پس از آنکه طالبان دراستقامت بادغیس وسالنګ به موانع و مشکلات جدی برخوردند بالاخره به سوی هزاره جات رو آوردند تا وضعیت این منطقه را که در ګذشته نسبتاً آرام بوده است، متشنج سازند.

رهبرحزب وحدت ګفت که ما امید واریم منطقه هزاره جات آرام باقی بماند زیرا این امربرای استقرارصلح کمك می کند .

وی افزود که طالبان مناطق با امن را به ساحه جنګ مبدل می سازند ، امید است که طالبان متوجه نتایج بعدی اینګونه اقدامات جنګ طلبانه خود باشند .

کریم خلیلی دراخیردرجواب به این پرسش که طالبان مدعی انفاذشریعت اسلامی وحکومت اسلامی می باشند نظرشما دراین رابطه چیست؟ افزود که حکومت اسلامی بر پایه، حاکمیت دین الهی درافغانستان برقرارخواهد شد نه اینکه ګروهی حاکمیت خود را با توسل به اقدامات سرزورانه تحت نام اسلام برديګران تحمیل نماید.

یلتسین وضع اردوی

کنوني آسان نبوده مشکلات وموانع زیادي پیش رو است .

یلتسین اضافه کرد بحران اقتصادي موجب کاهش بودجه اردو شده است، اما روسیه مصمم است توانایي هستوي خودرا درمنطقه وجهان حفظ نماید .

رئیس جمهور روسـیه ازاظهارات تندروانه ایګور رودیونوف وزیردفاع این کشور،انتقاد نموده افزود که رودیونوف پس ازاین ، باید ازاعتراضات شدیداللحن برضد اردو خودداري نماید .

درمذاکرات مسکو پیشرفتي

دوطرف درباره حل وفصل مسائل نظامي ازجمله خلع سلاح نیروهاي مخالف وادغام آنهادرنیروهاي مسلح تاجکستان مورد بحث قرارګرفت اماطرفین بـه راه حل مشترکي دست نیافتند .

وي افزود دولت تاجکستان نمیتواند باپیشنهاد مخالفان درباره تشکیل ارګان هاي خاص وخود داري ازاوغام کامل آنهادرترکیب نیروهـاي نظـامي رسمي موافقت کنند .

وي ګفت که این کاربه معني ایجاد دومین اردوي رسمي درتاجکستان است نظروف افـزود مخالفان همچنین درګفتګوهاي خـود خواستار تعین یك دوره آزمایشي (۸) ماهه براي بخش امکان همکاري بانیروهاي دولتي شده اند که به نظرما مهلت دوماهه کافي میباشد .

درګزارش آمده است که توره جان زاده معاون رهبر اتحادیه مخالفان دولت ورئیس هیئت مذاکره کننده مخالفان ګفت : اتحـادیه مخالفان خواستار منحل شدن نیروهاي شان بـه اردوهاي تاجکستان درترکیب ارګان هاي خاص میباشند .

ازسوي دیګردولت عثمان عضوهیئت مذاکره کننده مخالفان درباره ګفتګو هاي مسکو ګفت : طبـق توافقاتي کـه درپنجمین دورمذاکرات در ایـران صورت ګرفته ممنوعیت فعالیت احزاب سیاسي باید درکنار مسائل نظـامي حل وفصل ګردد وبه عنوان بخشي از پروتوکول نظامي درج ګردد .

ازسوي دیګر یك نماینده دولت روسیه درګفتګو هاي صلح تاجکستان پیشنهاد مخالفان راکارقابل اجرا دانست وګفت : نیروهاي دوطرف باید به یك دیګرعادت کنند .

قابل یاد آوریست کـه مذاکرات صلح تاجکستان کـه روز چهارشنبه ګذشته درمسکو آغازشده بود همچنان ادامه دارد

امریکا د

کانګریس ته څرګنده کړي چي دمخدره موادو په تولید اوقاچاق کي لاس لري .

میدلین البرایـت ویلي دي چي برما ، افغانستان، کولـمبیا، ایران، نایجریا اوسوریه دمخدره موادو دکښت اوتجارت په لومړي مقام کي قرارلري چي دکلنټن له خوا لدي هیوادو سره به دامریکا مرستي اوسوداګري اړیکي ختمي کړاي شي .

دامریکا دبهرنیوچارو وزیري ویلي دي برما اوافغانسـتان دټولي نړي دمخدره موادو ۷۵ فیصده برخـه تولیدوي چي پدي دواړوهیوادوکي دمخـدره موادو دکښت او تولید مخنیوي ګران کاردي .

« میدلین البرایټ » دافغانستان په اړه ویلي دي سـره لـدي چي طالبان دافغانستان ۹۵ په سلوکي خاوره ترخپل کنترول لاندي لري، بیاهم دمخدره موادو دکښت اوصادرولو دمخنیوي په کارکي له ناکامي سره مخ دي .

البرایټ څرګنده کړي چي جمهوررئیس بل کلنټن په افغانستان کي دکوکنارو په کرهنه باندي خواشیني دي . اوګوابس بي کړي ترڅوچي په افغانستان کي دکوکنارو کښت اوتجارت په قطعي ډول نه وي بند شوي، امریکابه ورسره هیڅ ډول تجارتي ، اواقتصادي اړیکي نه ساتي .

اوهغه به وکړي چي نوریهرني هیوادونه هم ورسره داډول اړیکي ونه ساتي .

دامریکا متحـده ایالاتو دبرازیل اوپاکستان هیوادوته هـم پدي اړه اخطارورکړي، خوتراوسه یې له اقتصادي بندیزونو څخه مستثنی ګرځولي دي .

فعالیت

کمیته مذکورعلاوه برفعالیت های صحی ، نامه های محبوسین واسیران جنګی افغان را به اقارب شان می رساند .

نامبرده بیان داشت که اداره صلیب سرخ همچنان برای معیوبین افغان که به اثر جنګهای داخلی ویا انفجار ماین های فرش شده در افغانستان جراحت برداشته اند، اعضای مصنوعی می سازد .

وی ګفت این اداره ازسال ۱۹۸۰ تاکنون مصروف عملیات امداد رسانی در افغانستان بوده و ابرازامیدواری کرد که اداره مذکورکارخود را دربخش ساختن اعضای مصنوعی برای معیوبین توسعه دهد تامشکل معیوبین ازاینطریق کاملاً حل ګردد.

درګیری میان طالبان

ازحمله و درګـیري ګزارش نشده است درینحال نیروهاي طالبان درنزدیکي سیاه خاك وسبزك تحرکات خودرا افزوده ومشغول تقویت نیروهاي خود درین مناطق میباشند اماتاکنون درین مناطق نیزدست بـه تعرض علیه نیروهاي حزب وحدت نزده اند .

ازسوي دیګرنیروهاي شوراي دفاع نیز درخطوط مقدم جبهه باطالبان به تقویت نیروهاي خـود پرداخته وصدهاتن ازافراد خودرا به ولایت بادغیس وهزاره جات فرستاده است .

کنفرانس الماتي پایان یافت

هزارساکنان سواحل دریاچه اورال به توافق رسیدند .

قرارګزارش خبرګزاری ها ازالماتی نورسلطان نظربایف رئیس جمهور قزاقستان درین مورد ګفته است ما برای کمك به اهالی سواحل آورال نیازبه ۳۸۰ میلیون دالرداریم .

قرارهمین ګزارش درین بیانیه همچنان روسای جمهوری ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان و تاجکستان ازسازمان ملل متحد خواستار کمك شده اند .

افزایش میزان رسوب نمك دریاچه اورال باعث بیماری های سیستم تنفسی وامراض دیګرمی شود .

دشمنان اسلام از

افزود که دشمنان اسلام می کوشند بادامن زدن به تعصبات مذهبي وفرقه ای به نفع خود استفاده نمایند.

نامبرده راجع به حوادث اخیر در پاکستان مبنی بر یك سلسله انفجارات وحمله بر خانه فرهنګ جمهوری اسلامی ایران در شهرملتان پاکستان ګفت که تصورمی شود که این یك واقعه عمدی باشد، بلکه هدف ازآن ایجاد اختلافات میان پیروان مذاهب شیعه وسنی بوسیله ګماشتګان دشمنان اسلام می باشد .

علم شاه مهمند که با رادیوی مشهد صحبت می کرد ازمسلمانان تقاضانمود درقبال همچو حوادث هوشیار و حساس بوده ، آله‌ء دست کشورهای کفری قرارنګیرند.

وی ابراز امیدواری کرد که با روی کار آمدن حکومت منتخب نـوازشریف جلوحوادث دلخراش در پاکستان ګرفته شده و از ریختن خون مسلمان بواسطه مسلمان جلوګیری خـواهد شـد. وی در اخیرګفتګویش افزود که امـید است حکومت جدید پاکستان درجهت اتحاد وهمبستګي مسلمانان توجه خاص مبذول بدارد.

زندګی سعادتمند

دیګردرمیان اعمالیکه دل شمابه آن میل وشوق دارد و اعمالیکه باآن دل شماشوق ومیل ندارد ازآن تمیزوتفریق کنید .

وشمادرمورد شناختن امور سودمند وغیرسودمند ازفکردرسـت ومشوره دوستان وخویـشاونـدان خبیرمدد بخواهید زیرا که مشوره موجب عدم پشیمانیست وهرکار که میخواهید نفع آنرامعلوم کنید.

والسلام

سحراعظمي